افغانستان اسلامي امارت

لوړوزده کړو وزارت

غزني پوهنتون

اقتصاد پوهنځی

# او مالي نظام ځانګړتیاوي

(ند)

احمد،عبید الله،منیب الرحمن،وحدت الله،عبد الحلیم او زاهد الله

حمد،سیف الله اومنصوراحمد

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

# پیلیزه

1

❖ اسلامي اقتصادي او مالي نظام په رښتینو انساني ارزښتنو ولاړ دی چې له نورو نظامونه سره مختلف تفاوتونه لري چې داسلامي اقتصادي او مالي نظام ځینې مهمې ځانګړتیاوې په لاندې ډول دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

2



(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱. د عقيدې سره تړاو

د اسلامي اقتصادي او مالي نظام لومړنۍ ځانګړتيا د
توحيد(يوپرستي ) له عقيدې سره تړاو لرى.
ځکه عقيده په فوق العاده ډول د انسانانوپر
پريکړو،کړووړو،اخلاقواو اقتصادى راکړو ورکړو
باندې خپل اغيز لرى.



(c) ketabton.com: The Digital Library



❖ مسلمان په دې باور لرى دا چې د شتمنيو په شمول د ټولې نړۍ ربښتنى مالک الله سبحانه وتعالى دى او يواځې او يواځې الله سبحانه وتعالى د تل لپاره ژوندى او له هغه سبحانه وتعالى څخه پرته هر څوک او هر څه د دې نړۍ پر مخ فنا کيږي.

نو ځکه د انسانانو اقتصادي او مالي راکړې ورکړې بايد د الله تعالى سبحانه وتعالى دلاربنوونو سره سمې تر سره شي تر څو دمادي کټو سره سره معنوي ارزښتونه هم په پام کې نيول شوي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۲.عبادتي بنه

ځرنګه چې د اسلام مبارک سپیڅلي دین د انسان د ژوند ټول اړخونه تر پوښښ لاندې راوستي دي،
هر هغه ژوند ،له خلکو سره تعامل،متقابل احترام،اقتصادي راکړې ورکړې او داسې نور چې د الله تعالی له احکامو سره تر سره شي عبادت ګڼل کیږي او الله تعالی به انشاالله نوموړي انسان ته په دنیوي ژوند کې رواني اطمنان ورکوي او په آخرت کې به یې جنت ورپه برخه کوي.



(c) ketabton.com: The Digital Library



❖نو ټولې هغه اقتصادي چارې چې د اسلام د سپڅلي دين د لاربنوونوپه رڼا کې ترسره شي،عبادت دي کوم چې د انسان د پيدايښت اصلي موخه ده،چې په هکله يې الله تعالی په قرآن کريم کې داسې فرمايي:

**وَ مَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَ الْاِنْسَ اِلَّا لِيَعْبُدُوْ(۵۶)**

**ترجمه:او ما پيرى او انسان نه دى پيداکړى مګر د دې لپاره چې زما عبادت وکړي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۳.له اخلاقوسره تړاو

څرنګه چې د اسلام سپيځلي دين د انسان د ژوند مکمل نظام تشکيلوي،د سوداګريز چاپيريال په شمول تل د نيکمرغي ټولني د جوړولوکوښښ کوي نوځکه انسان ته لارښونه کوي چې خپلې ټولې اقتصادي راکړې ورکړې سل په سلو کې د خيانت،دوکې او درغلی څخه پاکې تر سره کړي.

❖ که چيرې مونږ په خپلو معاملاتوکې د رښتينولي څخه کار واخلونه تنها چې مونږ به د الله تعالی د اجر څښتنان شو بلکې پيرودونکي به زمونږ د کاروبار په وړاندې وفادار پاتې شي او زمونږ د کاروبار ارزښت به لوړشي بيدون له دې څخه چې مونږ د مارکيټينک لوړ لګښتونه ادا کړو.



(c) ketabton.com: The Digital Library



❖د ښو اخلاقو د اهمیت په هکله د انسانیت ستر لارښود حضرت محمد (ص) فرمایلي:

په حقیقت کې زه ددې لپاره الله تعالی رالیږلی یم چې د نیکو اخلاقو تکمیل وکړم.

❖ همدارنګه بل ځای یې ویلي دی چې:

ستاسو په کورنیو کې بهترین هغه څوک دي چې د ښو اخلاقو څښتنان وي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۵.ذاتي رقابت:



اسلامي اقتصادي نظام د ذاتي رقابت پر بنسټ کار کوي، په اسلامي اقتصادي نظام کې تولې کړنې د اسلامي ارزښتونو په رڼا کې تر سره کيږي.

- ❖په اسلامي اقتصادي نظام کې تولې کړنې په داسې ډول ترسره کيږي چې هم مادي کټه ولري او هم معنوي کټه ولري، چې ددغه کړنې په بدله کې الله تعالی هم په دنيا کې د هغې بدله ورکوي او هم په آخرت کې .
- ❖د اسلام سپيڅلي دين انسان ته لارښوونه کوي چې تل خپل معاملات په غوره ډول تر سره کړي او يواځې د خپل ځان سوچ ونه کړي بلکې د ټولنې د ښيګڼې لپاره کار وکړي .
- ❖دلته انسان يوازې خپلې ګټې په نظر کې نه نيسي بلکې د ټولنې ګټو ته هم پاملرنه کوي.



(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۵.متوازن ثبات او اقتصادي وده

اسلامي اقتصادي او مالی نظام د ثابتو او محکمو اصولوپر بنسټ کارکوي،هغه اصول چې د وخت او ځای په بدلیدو سره بدلون نه مومي.
خو د نومووړو اصولود تطبیق او تعمیل بڼه د وخت او ځای په بدلیدو سره د انسان له نووغوښتنو سره سم بدلون موندلی شي.



(c) ketabton.com: The Digital Library



❖ داسلامي اقتصادي او مالی نظام هغه اصول چې د وخت اوځای په بدلیدو سره بدلون نه مومي په لاندې ډول دي:

۱.د شتمنیو او اقتصادي زیرمو رښتینی څښتن الله تعالی دی او انسان یوازې د ځمکې پر مخ د خلافت دنده تر سره کوي.



(c) ketabton.com: The Digital Library



۲.په اسلامي ټولنه کې هر څوک حق لري چې
خپلې بنيادي اقتصادي اړتياړې ترلاسه کړي.

۳.د مسلمانانو د اقتصادي نظام بنسټ ټولنيز
عدالت او ښيګڼه ده.

۴. انفرادی څښتنتوب ته درناوي:

۵.ټول انسانان بايد د ځمکې په اقتصادي
پرمختګ او پراختياکې خپله دنده تر سره کړي.

۶. د توکيو اوخدمتونو په استعمال کې له تعادل
څخه کاراخيستل.



(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۶.د مادي او معنوي اړتیاوو ترمنځ توازن

❖د انسان په لاس جوړ اقتصادي (پانګه ییز او ټولنیز)ماډل تر ډیره په مادي ګټوڅرخیږي،
په داسې حال کې چې اسلامي اقتصادي او مالی نظام دواړه مادي او معنوي (د انسان د جوړښت دوه مهم عنصرونه) په پام کې نیسي او هڅه کوي چې د دواړو ترمنځ په داسې ډول توزان وساتي چې د انسان لپاره پوره خوښ او مطمئن ژوند تضمین کړي.

❖هغه اقتصادي هڅې چې د انسان مادي او معنوي اړتیاوې په پآم کې ونه نیسي انسان ته خوښي نه شي ورکولاي او همدا دلیل دي چې چې نن سبا ډیر خلک (سره له دې چې ټولې مادي آسانتیاوې په واک کې لري)له ناخښ ژوند څخه سر ټکوي.



(c) ketabton.com: The Digital Library



❖له بلې خوا يوازې عامه کتو ته پام کول د افرادو د اقتصادي نوښتونو او لا ديرو هڅو روحيه کمزورې کوي ځکه چې په اقتصادي خوځښتونو کې مناسبه ونډه نه اخلي چې په پايله کې د طبيعي زيرمو څخه نا مناسبه کټه او پخ اقتصادي پرمختګ منځ ته راځي.



(c) ketabton.com: The Digital Library



❖مونږ باید دواړو(شخصي اوعامه) ګټو ته په پام کې نیولو داسې یوه متوازن اقتصادي پرمختګ ته لاره هواره کړو چیرته چې د ټولنې ټول افراد خپل پوره وس کوي چې په اقتصادي پرمختګ کې خپله لازمه ونډه واخلي.

❖په ورته ډول په اقتصادي اسلامي نظام کې بې وزله د شتمنو پوره ملاتړ له ځان سره لري ځکه په اسلامي نظام کې شتمن د بې وزلو په وړاندې اسلامي مسؤلیت لري.

❖که چیرته د شخصي او عامه ګټو ترمنځ داسې ټکر راشي چې پخلي یې ممکن نه وي،اسلامي اقتصادي نظام عامه ګټو ته لومړیتوب ورکوي او افراد هڅوي چې د عامه ګټو په وړاندې قرباني ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مأخذ

صدیق. محمد صدیق، (۱۳۹۶هـ ش). د اسلامي اقتصاد او بانکوالي لنډه پېژندنه



(c) ketabton.com: The Digital Library



# پاي

Ppby :Hasibullah"Amini"

(c) ketabton.com: The Digital Library



???

(c) ketabton.com: The Digital Library



# له توجو څخه مو نړی مننه

Ppby :Hasibullah"Amini"

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**